عبدالباري جهاني (ترجمه) ۲۰۱۹/۱/۰۴

# د ډاکټر عبدالغني اثر

لمړی برخه

«عبدالغني په ۱۸۶۴ کال کي زېږېدلی او د پنجاب د ګجرات په ایالت کي یې زده کړي کړي دي. په ۱۸۸۵ کال کي اینګلینډ ته ولاړ او هلته یې د سردار نصرالله خان سره ولیدل. له هغه ځایه یې د امیر عبدالرحمن خان څخه په اینګلینډ کي د تحصیل لپاره سکالرشیپ تر لاسه کړ. په ۱۸۹۰ کال کي کابل ته راغی او د امیر عبدالرحمن خان د مخصوص منشي په حیث یې کار پیل کړ. وروسته یې درې کاله د لاهور د اسلامیه کالج د مدیر په حیث کار وکړ او د امیر حبیب الله خان په غوښتنه بیرته کابل ته ستون سو او د سرطبیب په حیث مقرر سو، د افغانستان د عامه هدایاتو د آمر په حیث او د حبیبیه ښوونځي د مدیر په حیث یې وظیفه درلوده. د سیاسي او اجتماعي اصلاحاتو په راوستلو کي یې فعاله ونډه درلوده  او د ځوانو افغانانو یوه ډله یې پر ځان را وګرځوله، چي د سِرِّملی په نوم یو پټ تنظیم یې جوړ کړ. عبدالغني او د ده یو شمېر طرفداران په ۱۹۰۹ کال کي د امیر حبیب الله د قتلولو په دسیسه کي د لاس لرلو په تور ونیول سول. کله چي امیر امان الله خان پاچا سو، عبدالغني خوشي سو او د ۱۹۱۹ کال د اګسټ په میاشت کي یې په راولپینډی کي د سولي په کنفرانس کي د افغانستان د هیات د غړي په حیث برخه واخیستله. دی وروسته هند ته ستون سو او د افغانستان او مرکزي اسیا په باره کي یې یو کتاب ولیکی. ډاکټر عبدالغني په ۱۹۴۵کال کي وفات سو » آدمک هیستوریکل ډیکشنري.

From a Review of Political Situation in Central Asia. By Dr. Abdul Ghani.

دوهم فصل:

امیر عبدالرحمن خان

افغانستان، حتی د سدوزیو په پاچهي او د امیر دوست محمدخان او د هغه د زامنو په وختونو کي د کرارۍ مخ ونه لیدی. افغانستان د فقید امیر عبدالرحمن خان تر زماني پوري د یوه متحد ملت په څېر د جوړېدلو امکان پیدا نه کړ او امیر عبدالرحمن خان په ډېر قوت او جبر قبایلي دښمنی وځپلي او تر مطلقه استبداد لاندي یې یوه قوي او منظمه پاچهي منځته راوړه.

امیر عبدالرحمن خان تعلیم نه وو کړی، مطلق بېسواده وو او لیکل او لوستل یې په لوی سِن کي زده کړل. دی هغه وخت په بدخشان کي وو او د هغه ولایت مختلف میران یې تابع کول چي د کابل د تخت په مقابل کي یې،چي وروسته د ده پلار ته ورسېدی، بغاوت کړی وو. ده ایله د بدخشان ستونزي حل کړي وې او دا به دلچسپه وي چي د سواد د زده کړي کیسه د ده د خپلي خولي واورو .



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

« زه باید دلته د هغه الهام کیسه وکړم چي په دغه موضوع کي ماته وسو او د هغه تکرار مي پخپله پر زړه ښه لګیږي. یوه ورځ زه په دربار کي ناست وم چي د امیر محمداعظم خان له لور څخه مي، چي زما نامزد ( چنغله) وه، دا وخت یې په کابل کي ژوند کاوه، یو لیک ترلاسه کړ. دې هغه سړي ته چي لیک یې ورکړی وو ویلي وه چي لیک به هیچا ته نه ښیي او شخصاً به یې ماته سپاري؛ او جواب باید ما په خپل لاس لیکلی او مهر کړی وای. لکه مخکي چي مي وویل ما هیڅ وخت له لیک لوست سره علاقه نه درلوده؛ او چي څه مي پخوا زده کړي وه هغه مي ټول هیر کړي وه. ما ته چي دا لیک را ورسېدی نو زه ډېر خپه سوم او خپل هغه خپګان مي اوس هم په یاد دی. زړه مي په دربېدو سو او خپل ځان مي په دې ملامت کړ چي له یوې خوا د خپلي مراني او سړیتوب لاپي کوم او له بلې خوا دونه ناپوه یم چي یو لیک نه سم لوستلای. په هغه شپه چي بسترې ته ولاړم نو ډېر سخت مي وژړل، خدای ته مي ډېری دعاوي او زاری وکړې او ټول اولیاء او بزرګان مي را وننګول او ټول مي خدای ته شفیع کړل. دعا مي وکړه چي  اې خدایه! زما زړه ته یوه رڼا را ولېږه او دماغ مي روښانه کړه څو زه لیک لوست وکړای سم. ته مي د خپل مخلوق په مخ کي مه شرموه. په هغه شپه مي ښه ډېر وژړل او د سهار په وخت کي خوب راباندی راغی او ویده سوم. په خوب کي مي ولیدل چي یو مقدس سړی راته راغی. میانه قده سړی وو او ښه قامت یې درلود، بادامي سترګي یې وې، کماني نرۍ ورځې یې وې، اوږده ږیره یې درلوده، بیضوي مخ یې وو او نرۍ اوږدې ګوتي یې وې. یوه نصواري بګړۍ یې تړلې وه او خط لرونکی ټوکر یې تر ملا تاو کړی وو. یو اوږد لرګی ورسره وو چي په سر کي یې اوسپنه وه. داسي ښکارېده لکه زما سرته چي ولاړ وي او په ډېره کراره یې راته وویل چي عبدالرحمانه پورته سه او ولیکه. زه ویښ سوم او ووېرېدم. بیرته ویده سوم او بیا هغه سړی راته راښکاره سو او راته ویې ویل چي زه وایم ولیکه او ته ویدېږې. زه یو ځل بیا را ویښ سوم او هیڅوک مي ونه لید او بیرته ویده سوم. هغه مقدس سړی د دریم ځل لپاره راته راغی او په ډېر قهر یې راته وویل چي که بیا ویده سوې نو سینه به دي په دغه لرګي درسوری کړم.  دلته نو زه ووېرېدم او را ویښ سوم مګر بیا ویده نه سوم. ما خپلو نوکرانو ته ږغ کړل چي ماته قلم او کاغذ راوړي او  د تورو د لیکلو په باره کي مي فکر وکړ. زه چي هلک وم یو څه مي لیکلای سوای. خدای تعالي مي په خپل قدرت یو یو توری په ذهن کي را وګرځاوه. حافظې مي مرسته راسره وکړه او چي مي لوستي وه هغه مي په یاد سول. له یوه توري وروسته مي بل توری ولیکی او په دې توګه مي، تر لمرخاته مخکي، شپېته اویا کرښي مکتوب ولیکی. ځیني توري نه وه سره لګېدلي او ځیني سم نه وه لیکل سوي. کله چي مي لیک بیرته ولوستی نو پوه سوم چي زه ټول لوستلای سم او په لیک کي خپلو ټولو غلطیو ته متوجه سوم. هغه لیک مي ځیري کړ او له سره مي ولیکی. دونه خوشاله وم چي خپله خوښي مي کنترولولای نه سوای. په هغه ورځ سهار، چي له خوبه را پاڅېدم، د یوه یا دوو والیانو مکتوبونه مي، چي زما په عنوان یې لیکلي وه، خلاص کړل او ومي لیدل چي د مکتوبونو په مضمون پوهېږم نو خوشالي مي لس چنده سوه. کله چي د دربار وخت را ورسېدی نو  هغه منشي چي وظیفه یې ماته د مکتوبونو لوستل وه، له معمول سره سم، زما خواته راغی مګر ما ورته وویل: زه به نن خپل مکتوبونه ولولم او ته به زما غلطی اصلاح کړې. ده ومسل او وې ویل چي تاسي جلالتمآب مکتوب لوستلای نه سی او د ده له دې خبري سره ما مکتوب پرانیست او ورته ومي ویل چي غوږ راته ونیسه چي لوستلای یې سم کنه. له دې خبري سره سم مي د مکتوب په لوستلو پیل وکړ او د جوابونو هدایت مي ورکړ. په دې توګه موږ له دوو سوو مکتوبونو څخه سل پرانیستل او جواب مو ورکړ. په څو ورځو کي زه د خپل منشي له مرستي څخه بېغمه سوم او مکتوبونه مي هم

لوستل او هم مي جواب ورکاوه. څو ورځي وروسته مي قران شريف له سره ولووست او د اولياوو او پيغمبرانو په نامه مي پيسي خيرات کړي. پلار ته مي خط واستاوه او هغه ته مي وليکل چي زما سره خدای مرسته وکړه او اوس ليک لوست کولای سم. ما، خپل پلار ته، دغه ليک د يوه محافظ په لاس واستاوه. پلار مي، په لومړي سر کي، زما کيسه نه منله او زما محافظ ورته ويلي وه: ستاسي زوی پخوا تاسي ته ليک نه سوای لېکلای او دا يو حقيقت وو. که هغه دروغ ووايي څرنگه به تاسي ته گوري. زما پلار په پای کي د هغه خبره منلي وه او هغه ته يې پنځه زره ټنگې او يو قيمتي خلعت ورکړی وو. ماته يې، په طلا کي نيول سوې، يوه توره، لس تختي طلاکاره ټوکران او يو څو وړين شيان را ولېږل. ما د خدای شکر ادا کړ او د پلار د مهربانيو مننه مي وکړه».

امير عبدالرحمن خان يو خدايي نبوغ درلود او چي څه د زړه سختي يې درلوده هغه يې په مذهبي تعليم او د اشرافو په کورنيو کي د لويېدلو او روزل کېدلو له امله اصلاح سوې وه. عبدالرحمن خان په هغو جنگونو کي لوی سوی وو چي د ده د نيکه، لوی امير دوست محمدخان، کورنۍ يې سره پاشلې وه. ده د دې کورنۍ روزني تر څنگ د خپلو خلکو له اخلاقو او سلوک په برخه کي ډېره پراخه تجربه درلوده. د خپل پلار او کاکا په وختونو کي، چي يو په بل پسې يې د کابل تخت ونيوی، د ترکستان د حاکم او د پوځي قواوو د قوماندان په حيث ټاکل سوی وو. د هغې سيمي قومي مشرانو او د هغوی قبايلو د کابل د حکومت په مقابل کي ښورښ کړی وو او ده هغوی ټول، يو په يو، په سختو جگړو کي، چي معمولا به يې د حريفانو قواوي وربانديې زياتي وې، وځپل او ټول يې اېل کړل. دلته نو د ده اداري نبوغ ښه څرگند سو او په ترکستان کي يې نفوذ او اداري تجربه هغه وخت په درد وخوړه چي ده له خپل هيواد څخه د انگليسيانو د ايستلو لپاره، چي په هغه وخت کي يې کابل اشغال کړی وو، جگړه کوله او د ترکستان خلک يې تر شا ودرېدل. دی په کورنيو دښمنيو او دسيسو کي خپل پلار ته وفادار وو، که څه هم چي د هغه د کمزوري او هر گړی تغيير کېدونکي پاليسی ملاتړ يې نه کاوه. د ده د کاکا زامن او ترونه، چي د ده د ورځ په ورځ زياتېدونکي نفوذ او اداري قوت څخه ډارېدل، يو وخت په دې بريالي سول چي پلار يې ورسره مخالف کړي. د ده هغه پلار يې، چي ده د خپل ژوند په بيه له هغه څخه دفاع کړې وه په دې قانع کړ چي عبدالرحمن خان د هغه د پرزولو لپاره د سيسي کوي او امير محمد افضل خان هم هغه بندي کړ. نور نو په هر وخت کي چي يا حاکم او يا جنرال وو په بشپړ مهارت يې اداره پر مخ بېولې ده.

د پلار له وفات څخه وروسته يې د کابل تخت خپل کاکا امير محمداعظم خان ته پرېښود. پخپله يې د پوځ قومانداني پرغاړه واخيستله او خپل کاکا ته يې د حکومت په اداره کي تر ټولو ښې مشوري ورکولې. مگر د ده کاکا پخپله د عقل او ارادې له پلوه کمزوری وو او، د خپلو درباريانو په لمسون، ډېر ژر له عبدالرحمن خان سره مخالف سو او هغه يې ترکستان ته واستاوه. حتی په ترکستان کي يې هم آرام ته پرې نه ښود؛ تر څو چي اميرشېرعلي خان له کندهار څخه پر کابل باندي حمله وکړه او د ده د کاکا درباريان ورڅخه وتښتېدل او دی په پای کي مجبور سو چي خپل وراره د مرستي لپاره را وبولي. عبدالرحمن خان سمدستي د کابل پر لور حرکت وکړ او وروسته له خپل کاکا سره د غزني پر لور وخوځېدی. د غزني په گاونډ کي دواړي قواوي سره مخامخ سوې. د عبدالرحمن روزل سويو او با انضباطو قواوو د اميرشېرعلي قواوو ته دوه ځله ماته ورکړه. امير محمداعظم خان د داسي تاکتيکونو پر غوره کولو باندي ټينگار کاوه چي عبدالرحمن ته يې د ځان وژني حيثيت درلود، مگر د خپل کاکا د اوامرو منلو ته مجبور سو. نتيجه دا سوه چي دواړه له وطن څخه تښتېدلو ته مجبور سول.

عبدالرحمن خان د ډیرو سختیو له ګاللو او ډیرو خطرونو له لیدلو څخه وروسته د آمو تر سیند واوښت او بخاراته ولاړ. که څه هم چي د بخارا پاچا یې په لومړي سر کي ډېر درناوی وکړ مګر وروسته یې وضع ډېره سړه سوه او دی مجبور سو چي روسیې ته پناه یوسي او هلته د لسو کالو لپاره د یوه مهاجر په توګه ژوند وکړي. په روسیه کي یې ډېر د غریبی ژوند وکړ او په ډېرو لږو پیسو یې ګوزاره کوله. په روسیه کي یې د سختی شپې او ورځي تیري کړې، دغو سختو ورځو او په روسیه کي ژوند د ده لپاره د ښوونځي حیثیت درلود او دی یې د هغه کار لپاره وروزی چي په وروسته کي یې باید په خپل هیواد کي کړی وای.

کله چي د امیر شېرعلي خان له ماتي وروسته، برتانیې کابل ونیوی، عبدالرحمن خان ، د روسیي د حکومت په اجازه له هغه هیواد څخه افغانستان ته وخوځېدی، د بخارا له لاري ترکستان ته ننووت او د هغو لږ شمېر ملګرو سره چي د ده سره په وروستي مهاجرت کي ورسره وه او ده ته وفادار پاته سوي وه افغانستان ته داخل سو. په ترکستان کي یې له ځینو میرانو څخه مرسته ترلاسه کړه او افغانان یې، له خپلي مقدسي خاوري څخه، د برتانیې د ایستلو لپاره، تر خپل بیرغ لاندي را ټولېدلو ته را وبلل. د ده له لیکونو څخه، چي د لوستونکو لپاره به له دلچسپۍ څخه خالي نه وي، د ده خپل روحي قوت او د هغه قوم روحیات څرګندېږي چي ده یې د بهرنیانو له باداری څخه ژغورلو ته ملا تړلې وه.

د ترکستان یوه قومي مشر، شهزاده حسن، چي د هغه په کورنۍ کی عبدالرحمن خان یو واده هم کړی وو، د ده د یوه لیک په جواب کي، چي په بخاراکي یې د خواجه ګولون له کلي څخه ورته رالیږلی وو، ولیکل چي پام کوه د آمو تر سیند را تېر نه سې او که نه نو زما د مځکي هره هغه ټوټه به چي ستا او ستا د ملګرو پښي ورباندي لګېدلي وي له تا سره یو ځای وغورځوي څکه چي هغه خاوره به ستا او ستا د ملګرو قدمونو ناپاکه کړې وي. عبدالرحمن خان په جواب کي ورته ولیکل:

»اې احمقه، اې نامرده نمک حرامه! ما خو ته او ستا ورور کلونه کلونه وساتلاست او لوی مي کړلاست او ستا له نامردي کورنۍ سره مي واده هم وکړ او فکر مي کاوه چي یوه ورځ به د ضرورت په وخت کي زما خدمت وکړې. زه اوس په خپله غلطي پوه سوم او ستا اصلي څېره راته څرګنده سوه. زه که له مرګه وېرېدلای نو تر دغه ځایه به نه راتلم. اې نامرده! سبا به معلومه سي چي په موږ کي کوم یو غښتلی دی«

عبدالرحمن خان د آمو تر سیند را تېر سو. شهزاده دوولس زره عسکر درلودل او له عبدالرحمن سره ۱۱۰ تنه ملګري ورسره وه. شهزاده په جنګ کي یوه شرموونکي ماته وخوړه. دی وایي په دغه وخت کي یې تکیه پر خپل خدای وکړه او داسي احساس یې کاوه چي له ټولي دنیا سره مقابله کولای سي. دی وایی زما زړه دونه قوي وو چي ما ویل که د ټولي نړۍ له پوځونو سره مخامخ سم نو هغوی به لکه حشرات زما تر پښو لاندي کیږي. دی وایي دا د خدای نوم وو، دا زما زړه ورتوب نه وو بلکه هغه روح وو چي ده ماته بخښلی وو... دا زما د ژوند یوه تجربه ده چي که څوک د خدای خدمت ته په ریشتیا سره وقف سوی وي نو خدای بری ور په برخه کوي. زما د هغي عقیدې نتیجه دا سوه چي نن ورځ دا دی پاچا یم.

عبدالرحمن خان له هغه ځایه رُستاق ته روان سو او د هغه ځای خلکو او د هغوی مشرانو ته یې دوه لیکونه ولیږل: « اې مسلمانانو! زه د دې لپاره نه یم راغلی چي له هغو افغانانو سره جګړه وکړم چي ریښتوني مسلمانان دي بلکه په غزا پسي راغلی یم. نو تاسي ته دا لازمه ده چي زما اوامر ومنی چي هغه د خدای او د هغه د رسول اوامر دي. موږ ټول د خدای بنده ګان یو او غزا پر موږ ټولو باندي فرض ده »

ده دغه لیک د مسلمان په نوم لاسلیک کړ ځکه دی پوهېدی چي پر مسلمانانو باندي د ده تر خپل نامه د مسلمان نوم زیات اغېزمن دی. دوهم لیک یې د قومي مشرانو په نوم ولیکی او په خپل نامه یې لاسلیک کړ او یوه قومي مشر میر بابا ته یې ورکړ:

« میرشهزاده حسن، د فیض آباد قومي مشرانو او خلکو! زه تاسي ته اطلاع درکوم چي زه له انګلیسیانو څخه د فیض آباد د ژغورلو لپاره راغلی یم. که زه په سوله ایز ډول په دې کار کي بریالی سوم خو ښه تر ښه او که نه وي نو جنګ به کوم. تاسي ټول میران یاست او باید اجازه ورنه کړی چي د مسلمانانو خاوره د فرنګیانو لاسته ولوېږي. که دوی زموږ خاوره ونیسي نو له دې سره به زموږ شهرت هم تباه سي او د نړۍ خلک به فکر وکړي چي میران نه شرم او نه غیرت لري او د بې اتفاقی له امله یې خپل هیواد او عقیده بایلل. اې میرانو! زما نصیحت ته غوږ ونیسی که غوږ نه راته نیسی نو دا زما وظیفه ده چي ستاسي او کافرانو دواړو سره به غزا کوم. خپله فیصله مو وکړی چي غواړی د خدای او د هغه د رسول ملاتړ وکړی او که په خپلو کي جنګ ته تیار یاست ».

قومي مشرانو له خپل لوی مشر سره سلا مشوره وکړه او هغه عبدالرحمن خان ته نه تسلیمېدی، کشمیر ته وتښتېدی او ډېر ژر هلته مړ سو. وروسته یې د قطغن میرانو ته لیکونه واستول او له هغوی څخه یې وغوښتل چي په خپله خاوره کي د تېرېدلو اجازه ورکړي او له هغوی څخه یې د مالي مرستو او سرېو غوښتنه وکړه. میرانو په جواب کي ورته وویل چي موږ له انګلیسانو سره د جنګ کولو توان نه لرو او تا ته په خپله خاوره کي د تېرېدلو اجازه نه سو درکولای. عبدالرحمن خان د هغوی مشر ته ولیکل چي ځان غزا ته تیار کړي مګر هغه بیا هم تسلیم نه سو. عبدالرحمن خان د بلخ پوځیانو ته زر مختصر مکتوبونه په دې مضمون واستول:

« تاسي د افغانستان خلکوته زه اطلاع درکوم چي زه رُستاق ته روان یم مګر ستاسي میر سلطان مراد تاسي نه پرېږدي چي زما سره ووینی»

په عین وخت کي د بدخشان میرانو د خپل مشر میربابا په مشری د عبدالرحمن خان د نیولو او انګلیسیانو ته د هغه د سپارلو دسیسه کوله او په دې اړه ته هغه دا ریوټ ورسېدی:

»زه د دې لیک لیکونکی یو افغان تاجر یم او دا مي اورېدلي دي چي میربابا خان او د هغه منشي په خیال کي لري چي تا ونیسي او انګلیسیانو ته دي وسپاري. په دې توګه به د بدخشان حکومت په راتلونکي کي د دوی کورنۍ ته پاته سي. د خدای روی ته وګوره فیض آباد ته مه راځه«

عبدالرحمن خان په دې لیک کي ری ونه واهه او خپل سفر ته یې دوام ورکړ. میربابا په ظاهره له ده سره دوستانه اړیکي درلودل مګر څو ورځي وروسته یې هغه قلا چي عبدالرحمن پکښي اوسېدی محاصره کړه. عبدالرحمن په قلا کي له ځان سره ډېر لږ کسان درلودل؛ خکه یې نو جامي بدلي کړې څو ونه پېژندل سي. دی له قلا څخه پټ راووت او په لستوني کي یې خپله توپنچه ورسره اخیستي وه. تر هغو پوري چي میر ته نیژدې ورغی هیچا ونه لیدی. میر یې تر غاړه ونیوی او توپنچه یې د هغه سر ته ونیوله او هغه یې مجبور کړ چي خپلو سرېو ته ږغ کړي چي د لومړۍ دروازې له لاري قلا ته ننوزي . میربابا تسلیم سو او عبدالرحمن خان خپل سفر ته دوام ورکړ. کله چي کندوز ته ورسېدی نو شل زره کسیز لښکر یې درلود. د کندوز محلي پوځ ورته سلامي سو او د ده په ویاړ یې د توپ ۱۰۱ ډزي وکړې. په دغه وخت کي د انګلیسیانو د سفیر سر لیپیل ګریفین دغه لیک ورته ورسېدی:

« زما ویاړلی دوست سردار عبدالرحمن خان.

ستاسي دوست ګریفین د سلام ویلو او ستا سي د روغتیا له پوښتني کولو څخه وروسته درته لیکم چي د برتانيي حکومت په دې خوشاله دی چي ته تر قطغن پوري روغ رمټ را رسېدلی يې. دوی به خوشاله وي چي پوه سي چي له روسيي څخه تر راوتلو وروسته دي خيال څه دی»

عبدالرحمن خان د هند د حکومت سره د تړون څخه مخکي د سرلیپیل ګریفین سره څو لیکونه تبادله کړل چي په لوستلو ارزي. عبدالرحمن خان خپل پوځ راغونډ کړ او د سرلیپیل ګریفین لیک یې ورته ولووست او له خپلو صاحب منصبانو څخه یې وغوښتل چي د جواب په لیکلو کي مرسته ورسره وکړي. هغوی دوې ورځي وخت وغوښت او وروسته یې سل جوابونه تهیه کړل چي ځيني يې امیر پخپله داسي نقل کړي دي:

« اې انګلیسیانو! تاسي باید زموږ هیواد پرېږدی. موږ به تاسي وباسو او یا به په دې لاره کي مړه سو» په بل لیک کي، له هغوی سره د خبرو تر پیل کېدلو مخکي، افغانستان ته د هغوی له راتګ څخه وروسته د رسېدلي تاوان جبران غوښتل سوی وو. په یوه بل لیک یې غوښتنه کړې وه چي برتانیه دي د افغانستان د قلاګانو او توپونو د تباه کولو په بدل کي سل کروړه روپۍ تاوان تادیه کړي. او که نه وي نو انګلیسان به ، لکه د پخوا په څېر، تر پېښوره پوري ژوندي ونه رسېږي. یوه مشر لیکلي وه چي اې خاينو کفارو! تاسي هند په چم او خیانت نیولی دی او اوس غواړۍ چي افغانستان هم په دغه توګه د ځان کړی. موږ به تر هغه چي وس لرو ستاسي سره مقابله وکړو او بیا به نو د روسیي په څېر یو بل قدرت زموږ سره ملګری سي او ستاسي سره به وجنګېږو.

امیر عبدالرحمن خان وايي چي خبري را لنډي کړم دوی ټولو دغه ته ورته چټیاټ لیکلي وه. ما دغه لیکونه دوی ته په لوړ آواز ولوستل. او بیا مي نو دوی ته وویل چي اوس به نوهغه لیک چي پخپله باید ولیکم دوی ته ښکاره کړم. او دوی باید فکر ونه کړي چي ما د دوی بې سلا مشورې کار کړی دی. ما یوه پاڼه کاغذ را واخیست او له خپل خدایه څخه مي چي د ټولو مخلوقاتو خدای دی د لیک په ترتیبولو کي مرسته وغوښته. ما د اوو زرو اوزبیکو او پښتنو په مخ کي دغه لیک ولیکی:

« زما وياړلي دوست، د ستري برتانيي استازي ګریفین صاحب ته.

د سردار عبدالرحمن خان سلامونه ومنی. زه خوشاله یم چي ستاسي له مهرباني ډک لیک مي ترلاسه کړ چي قطغن ته مو زما د سالم رسېدلو له امله خوښي ښکاره کړې وه. ستاسي د هغي پوښتني په جواب کي چي له روسیي څخه څرنګه راوتلی یم، باید ووایم چي زه د وایسرا جنرال کوفمان او د روسيي د حکومت په اجازه راوتلی یم. یوازنی هدف مي دا دی چي د خپلو خلکو سره چي په سختو ستونزو کي دي مرسته وکړم. وروسته مي څه نوري اضافي تبصرې هم کړي وې»

«کله چي مي خپل پوځ ته دا لیک په لوړ آواز ولووست، نو مي له دوی څخه پوښتنه کړه چي زما جواب يې خوښ سو کنه. دوی په یوه ږغ راته وویل چي دوی غواړي زما تر بیرغ لاندي د وطن او دین لپاره وجنګېږي؛ مګر دوی نه پوهېږي چي څوک له پاچاهانو سره څرنګه رابطه نیسي. دوی په خدای او رسول سوګند یاد کړ او ماته یې واک راکړ چي څرنګه مي خوښه وي هغسي ولیکم. ټولو د یا چهاریار نارې پورته کړې او ماته یې وویل چي تا سم جواب لیکلی دی او موږ ټول درسره موافق یو»

عبدالرحمن خان له دې وروسته د چاریکار پر لور حرکت وکړ؛ په کابل کي یې د برتانيي مقاماتو ته په شفاهي پیغام کی وویل چي ده د چاریکار پر لور حرکت وکړ. کله چي چاریکار ته ورسېدی نو د غازیانو، منظمو پوځیانو او ملېشو شمېرېي دریو سوو زرو تنو ته ورسېدی. د ۱۸۸۰ کال د اپرېل پر دېرشمه د لیپیل ګریفین بل لیک ورته

ورسېدی او له ده څخه یي غوښتي وه چي د کابل د حکومت چاري په لاس کي واخلي. مګر عبدالرحمن خان د
مي پر شپاړسمه داسي جواب ورکړ:

« زما ارزښتمن دوسته.

ما د برتانيي له حکومت څخه هیله درلوده او اوس یي هم لرم او ستاسي دوستی ثابته کړه چي زما هیله بېځایه نه وه. تاسي ته د افغانستان د خلکو طبیعت معلوم دی. تر څو چي دوی پوه نه سي چي زه د هغوی په ګټه خبري کوم، نو یوازي زما خبري اغېزه نه کوي. بلکه خلک کابل ته زما د پرمختګ د پیل کولو څخه مخکي دغو سوالونو ته جواب غواړي:

١ :زما د هیواد سرحدات به تر کومه ځایه پوري وي؟

٢ :کندهار به پکښي شامل وي کنه؟

٣ :د برتانيي کوم اروپایی استازی او یا د برتانيي قوه به په افغانستان کي پاتیږي؟

۴ :زه به د برتانيي کوم دښمنان له خپلي خاوري باسم؟

۵ :د برتانيي حکومت به زما خلکو ته په عوض کي څه امتیازات راکوي؟

۶ :او په عوض کي د کومو خدماتو انتظار لري؟

زه باید خلکو ته د دې پوښتنو جوابونه ورکړم او د هغوی سره په همکاري به دا یقیني کوم چي زه به تر کومه حده له شرایطو سره موافقه کوم او څشي به کوم. زه له خدای څخه غواړم چي یوه ورځ به زه او دغه ملت ستاسي د هیواد خدمت وکړو. که څه هم چي د برتانيي حکومت به زموږ مرستي ته اړتیا ونه لري مګر ښایي په نړۍ کي داسي وضع منځته راسي چي زموږ خدمت او مرستو ته هم اړتیا پیدا کړی»

سر لیپل ګریفین د جون پر څوارلسمه په جواب کي ورته ولیکل:

« له القابو وروسته.

ما ته امر سوی دی چي ستاسي سوالونو ته د برتانوي هند د حکومت له خوا جوابونه درکړم .

ستاسي لومړۍ پوښتنه چي د خارجي قدرتونو په مقابل کي د کابل په اړه وه. څرنګه چي د برتانيي حکومت په افغانستان کي د هیڅ خارجي قوت مداخله نه مني او څرنګه چي روسیي او ایران دواړو ژمنه کړې ده چي د افغانستان په سیاسي چارو کي به لاس نه وهي نو دا څرګنده ده چي د کابل د حکومت واکمن به پرته له برتانيي له بل خارجي قوت سره اړیکي نه لري او که چیري کوم خارجي قوت د افغانستان په چارو کي لاسوهنه وکړي او که چیري د دغي لاس وهني په نتیجه کي د کابل پر واکمن باندي تېری کیږی نو د برتانيي حکومت، د ضرورت په وخت کي، له هغه سره مرستي ته تیار دی، خو په دې شرط چي د کابل واکمن د خپلو خارجي اړیکو په برخه کي د برتانيي د حکومت له مشورو سره سم عمل وکړي.»

نور بیا